وزارت دفاع ملی
ریاست دفتر
مهر صادره
۹۸/۸/۱۹ ۱۴۴

منظور است
اسدالله خالد
سرپرست وزارت دفاع ملی

## پالیسی و طرزالعمل حمایت و مواظبت از مجروحین، معلولین و بازماندگان شهدا و مفقودین

## لمړی څپرکی

## عمومي حکمونه

**۱٫۱- سریزه:** د خپلواکۍ، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع، په ټول هیواد کې د امنیت ټینګول، د هیواد د فاعي وړتیاو لوړول، د اسلام د مقدس دین او نورو مادي او معنوي ارزښتونو څخه ساتنه، د خلکو باورجلبول، ملاتړ او درناوی د ملي اردو د اړوندانو د دندو او مکلفیتو په سرلیک کې ځای لري.

له همدې کبله د ملي اردو زړور سرتیري، بریدملان او افسران د هیواد دښمنانو پر وړاندې د وطن څخه دفاع کوي په دغې سپېڅلې لاره کې د خپل جګړه ایزو دندو په حال کې دښمن سره یې مخامخ جګړو کښې خپل خوږه ځانونه له لاسه ورکړي، شهید، معلول او یا ورک شوي دي، همدارنګه د هغو زده کوونکو، محصلینو او مداومینو حقونه چې د ملي اردو په ښوونیزو او زده کړه ایزو مؤسسوکې دغلیم دغلیمانه فعالیتونو له امله شهید او معلول شوی او یا کیږي نو پر همدې بنسټ د ملي اردو د شهیدانو او د شهیدانو پاتي کسانو قدرداني او درناوی باید د سرلیک په بڼه د یوه غوره ملي، اسلامي او انساني فرهنګ په توګه د ملی دفاع وزارت دځانګړي

## فصل اول

## احکام عمومی

**۱٫۱- مقدمه** : دفاع از استقلال، حاکمیت ملی، تمامیت ارضی، تامین امنیت سراسری، ارتقاء قابلیت دفاعی کشور، حراست از دین مقدس اسلام و سایر ارزشهای مادی و معنوی، جلب اعتماد، احترام و حمایت مردم از جمله وظایف و وجایب منسوبین اردوی ملی بوده که در سرخط همه وظایف قرار دارد.

بدین منظور افسران، بریدملان و سربازان اردوی ملی شجاعانه از سرزمین‌شان در برابر دشمنان وطن دفاع نموده و در این راه مقدس در جریان وظایف بالفعل محاربوی و در جنگ‌های رویاروی با دشمنان وطن جان‌های شیرین خود را از دست داده شهید، مفقود و یا معلول گردیده اند و همچنان در مورد پرداخت حقوق آنعده محصلین، متعلمین و مداومین موسسات تحصیلی و تعلیمی اردوی ملی که بالاثر فعالیت‌های خصمانه دشمن شهید و معلول گردیده و یا میگردند به منظور ارجگذار به شهدا و بازماندگان شهدا و معلولین اردوي ملي باید به عنوان یك فرهنگ پسندیده ملي، اسلامي و انساني مورد توجه خاص وزارت

پاملرنی لاندې ووسي اوپه هر وخت اومهال کې دې زيار وایستل شي ترڅو هغه ستونزې او ننګوني چې دشهیدانو، ورک شوو او معلولینو د حقونو او امتیازونو د ورکولو په لارکې شتون لری له منځه يوړل شي.

**١,٢ - بنسټ:**

دغه تګلاره د اساسي قانون له٥٣ مې مادې سره سم، دشهیدانو، ورک شوو پاتې کسانو امتیازونو او د حقونو قانون د معلولینو او شهیدانو د پاتې کسانو د امتیازونو او حقوقو د قانون د ځینې موادو بدلونونه او د معلولینو د امتیازونو او حقونو د قانون پربنسټ ترتیب شوی ده.

**١,٣ - اصطلاح ګانې:**

**(١) - شهید** : هغه شخص دی چې دقانون ساتنی اوخاوری بشپړتیا ددفاع لپاره دجګړه ایزواو یا ددښمن دنورو فعالیتونو په وخت کې په شهادت رسیدلی وي.

**(٢) - ورک شوی** : افسر، بریدمل او سرتیری چی د جګړه ایزی دندی پر مهال د اصلی وضع الجیش نه تګ او بیرته دندی ته دراتګ پرمهال ورک شی چی ورک والی یی د کشفی ارګانونو او یا اړوندو قوماندانی له لوری تایید شی ورک ګڼل کیږی .

**(٣) - ټپي:** د ملي اردو پرسونل چې د جګړه ایزې دندې او یا د نورو طبیعی اوغیرطبیعی حالاتو په بهیرکې ټپي کیږي.

**(۴) – د جګړی بندیان:** کله چی د ملی اردو اړوند د دندی پر مهال د ښمن لخوا ونیول شی او په اسارت وړل کیږی .

دفاع ملی قرار گیرد و حتی‌المقدور سعی گردد تامشکلات و چالش‌های موجود که در فرا راه حقوق و امتیازات و رثه شهدا، مفقودین و معلولین قرار دارد مرفوع گردد .

**١,٢ - مبنی:**

این پالیسی در مطابقت با ماده ٥٣ قانون اساسی، قانون حقوق و امتیازات بازماندگان شهدا و مفقودین، قانون حقوق و امتیازات معلولین، تعدیل برخی از مواد قانون حقوق و امتیازات بازماندگان شهدا و مفقودین و قانون امور ذاتی افسران، بریدملان و ساتنمنان تدوین گردیده است .

**١,٣ - اصطلاحات :**

**(١) - شهید:** شخصی است که بخاطر دفاع از تمامیت ارضی و حراست از حاکمیت قانون حین انجام فعالیت‌های محاربوی و سایرفعالیت‌های دشمن به شهادت رسیده باشد .

**(٢)- مفقود** : افسر، بریدمل و سربازی که در جریان وظیفه محاربوی، رفت از وضع الجیش اصلی و برگشت به وظیفه ناپدید می شود بعد از تائید ارگانهای کشفی اداره مربوط و ارگانهای محل، مفقود گفته میشود.

**(٣)- مجروح** : پرسونل اردوی ملی که در جریان وظایف محاربوی و سایرحالات طبیعی و غیرطبیعی زخمی میگردند.

**(۴)- اسیرجنگی :** زمانیکه یك منسوب اردوی ملی توسط دشمن در جریان وظایف و فعالیت‌های محاربوی دستگیر و به اسارت برده میشود.

**(۵) ـ معلولیت:** بشپړ او قسمي معلولیت چې د افسر، بریدمل اوسرتیری روانی اوفزیکی حالت او دروغتیایی طبی کمیسیون دخرګنده دلایل چې دهغوی د دندی د اجرا کولو خنډ ګرځی.

**(۶) ـ معلول:** هغه څوک دی چې د جسمي ، حسي ، ذهنـي او روانـي وضـع دلاسـه ورکولـو پربنسـټ د روغتیایي کمیسیون په تشخیص سره ، خپله سلامتیا او کاری توان داسي له لاسه ورکړی وي چې په ټولنیز او اقتصادي ډګرکې دهغه دځواکمنۍ دکمیدو لامل شي.

**(۷) ـ بشـپړ معلـول:** هغـه څـوک دی چـې د هغـه د معلولیت یا د ځواکمنۍ کمیدو درجه د معلولیت د تثبیت د روغتیایي کمیسیون لخوا بـه سلو کې لـه (۶۰) فیصده څخه پورته تثبیت شوی وي.

**(۸) ـ دایمـي قسـمي معلـول:** هغـه څـوک دی چـې دهغــه دمعلولیــت یــا د ځــواکمنۍ دکمیــدو درجــه د معلولیـت د تثبیـت د روغتیـایي کمیسـیون لخـوا پـه سلوکې لـه (۳۰) فیصده څخـه تـر(۶۰) فیصده پـورې تثبیت شوی وي.

(۹)- **رمـــپ**:دپوړیـــو هغـــه اواري لارې دي چـــې د معلولینـو ویلچرونـه پرهغـې پـه اسـانه توګـه تـګ راتـګ وکړای شي.

**(۱۰) پاتې کسان عبارت دي له:**

- میره،مېرمنه،بې میره لو، هغه زوی چې د اتلس کلنۍ سـن بـې نـوی بشـپړ کـړی، معلـول یـا پـه ښـوونی، زده کړویـا د عسـکری عمـومي مکلفیـت دخـدمت پـه ترسـره کولو بوخت وي .

- پلار، مور، بې میړه خور، هغه ورور چې د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړکړی، معلول یا په ښووني،

**(۵)- معلولیـت:**معلولیـت کلـی وقسـمی بردلایـل معین کمیسیون صحی طبی ،معلولیت فزیکی و یا روانـی بـوده کـه مـانع اجرا وانجام وظایف محولـه افسر،بریدمل وسرباز میگردد.

**(۶) ـ معلـول**: شخصـی اسـت کـه بنـابر ضـایعه جسمی، حسی، ذهنی و روانی یا توام بـه تشـخیص کمیســیون صــحی، ســلامت و کــارآیی خــود را طوری از دست بدهد که موجب کاهش توانمندی او در عرصه‌های اجتماعی و اقتصادی گردد.

**(۷) ـ معلـول کلـی** : شخصـی اسـت کـه درجـه معلولیت یا کاهش توانمندی وی ازطرف کمیسیون صـحی تثبیـت معلولیـت، بـالاتر از (۶۰ ) فیصـد تثبیت شده باشد.

**(۸)- معلـول قسـمی دایمـی** : شخصـی اسـت کـه درجـه معلولیـت یـا کـاهش توانمنـدی وی ازطـرف کمیسـیون صـحی تثبیت معلولیت، حسـب احـوال از(۳۰ ) الـی (۶۰ ) فیصد تثبیت شده باشد.

**(۹) ـ رمـــپ :** راه زینـــه هـــای هموارکـــه ویلچرهـــای معلولین به سهولت ازآن رفت وآمد کرده بتواند.

**(۱۰) ــ بازماندگان عبارت اند از:**

- زوج، زوجـه، دختـر بـدون شـوهر، پسـری کـه سـن (۱۸) سالگی را تکمیل نکرده، معلول یا مصروف تعلیم یـا تحصیل و یـا انجـام خـدمت مکلفیـت عمـومی عسـکری باشد.

- پـدر، مـادر، خـواهر بـدون شـوهر، بـرادری کـه سـن (۱۸) سـالگی را تکمیـل نکـرده، معلـول یـا مصـروف

زده کړو یا دعسکري عمومي مکلفیت د خدمت په ترسره کولو بوخت وي، په دې شرط چې شهید یا ورک شوی، د شهادت یا ورکېدو دمخه دهغوی د معشیت متکفل وي.

- د شهید یا ورک شوي د حاملې جنین چې د شهادت یا وروک کیدو وروسته یې دهغه دامیند واره میرمنې څخه زیږول شوی وي .

- د شهید یا ورک شوي د پاتې کسانو تثبیتېدل د شرعي و ثیقې په واسطه صورت مومي.

**۴,۱- موخې:**

(۱)- دهغو قربانیانو د کورنیو څخه ملاتړاو ساتنه چې د خلکو او هیواد د خپلواکۍ او ځمکنې بشپړتیا، سر اومال او ناموس څخه په دفاع کې او دقانون د پلي کېدو په لار کې شهید، معلول او ټپي شوی وي او یا کیږي.

(۲)- دملي اردو د شهیدانو، ورک شوو، ټپیانو، او معلولینو د حقونو او امتیازونو په ورکړه کې دلازمو آسانتیاوو برابرول او په خپل وخت سره اخیستل.

(۳)- دملي اردو د شهیدانو، ورک شوو، ټپي شوو او معلولینو د وارثینوو څخه ساتنه او درناوی .

(۴)- د ملي اردوپه ټولو روغتیایي مرکزونو کې دملي اردو دمعلولینو اوټپیانو څخه ددرملنې اوساتنې برخې ته کلکه پاملرنه.

تعلیم یا تحصیل بوده و یا انجام خدمت مکلفیت عمومی عسکری باشد مشروط براینکه شهید و یا مفقود قبل از شهادت یا مفقودیت متکفل معیشت آنها باشد .

- جنین زن حامله شهید یا مفقود که بعد از شهادت یا مفقودیت وی از زن حامله او تولد شده باشد.

- تثبیت بازماندگان شهید ومفقود توسط وثیقه شرعی صورت می گیرد.

**۴,۱- اهداف:**

(۱) - حمایت و مواظبت از خانوادههای قربانیان که بخاطر دفاع ازاستقلال، تمامیت ارضی و پاسداری از ارزشها و حفاظت جان، مال و ناموس مردم کشور که در راه تنفیذ قانون، شهید، مفقود ،معلول و مجروح گردیده و میگردند.

(۲) – فراهم نمودن تسهیلات لازم جهت پرداخت بموقع حقوق و امتیازات شهدا، مفقودین، معلولین و مجروحین اردوي ملی .

(۳) – مواظبت و قدردانی از بازماندهگان شهدا، مفقودین، معلولین و مجروحین اردوي ملی .

(۴) – توجه جدی در حصه تداوی معلولین و مجروحین اردوی ملی ازطرف تمام مراکز صحی اردوی ملی .

## دوهم څپرکی

## دمعلولینو او ټپیانو حقونه اوامتیازونه

د هیواد د اتلوټپیانو او معلولینو دوام داره ملاتړ او ساتنه چې د هیواد ساتني، ملي واکمنۍ، خپلواکۍ، خاورې بشپړتیا او د هیواد د خلکو د امنیت لپاره خپله وینه اود بدن غړي لـه لاسه ورکړي دي د ملــي دفــاع وزارت، ستردرسـتیز، د ملــي دفــاع وزارت روغتیــایي ســترتوب او د ستردرســتیز روغتیایی سترتوب او قوماندانیت یو لـه اساسـي دندو څخه ده ترڅو ټپیان او معلولین بیا لـه سره د تــل روغتیــا ســاتني او ټــولنیز ژونــد جــوړونې اړتیاوې تکمیل ترڅو وکولائ شي د هغوی لپاره زیات او ښه خدمتونه پوره او سرته ورسوي.

**۱,۲- د معلولیت درجه، ټاکل او ثابتول :**

(۱)- د روغتیــایي کمیســیون لــه لارې د ټپیــانو د معلولیت درجې معلومول چې رواني زیان یې لیدلی وي او یا یې د خپل بدن غړي له لاسه ورکړي وي.

(۲) – د افســرانو او بریــدملانو د تــل ناروغتیــا او معلولیت پـر بنسـټ چـې د دنـدی دسـرته رسـولو خنډ گرځـي د روغتیـایي کمیسـیون لـه لارې یـې معلولیـت تثبیـت کېـږي د بـدن معلولیـت پـه دې معنــی دی چـې افسران، بریدملان او سرتیري د ناروغتیا پر بنیاد او یـا د ټـپ لـه کبلـه خپلـه ورسپارل شـوې دنـده پـه سـمه توگـه او د قناعـت وړ پـای تـه ونـه رسـوي د معلولیـت ثــابتول د طبــي قــانوني مــدرکونو ســپارل اړيــن گڼــل کیږي د افسر او بریدمل تقاعد د معلولیت او همیشنۍ ناروغتیـا پـر بنسـټ د مـدرکونو سـپارل د معلولیـت د تثبیت د کمیسیون لـه لارې او یـا د واکمنـي څـانگې لـه لورې د معلولیت ثابتول اومعلومول منل کیږی.

## فصل دوم

## حقوق و امتیازات مجروحین و معلولین

مواظبت و حمایـه دایمـي از مجـروحین و معلـولین قهرمان کشور که خون و اعضـای بدن خویش را در راه حراســت از اســتقلال، حاکمیــت ملــی، تمامیت ارضی و امنیت مـردم کشور از دستداده انـد یکـی از وجایـب اساسـی وزارت دفـاع ملـی و ستردرستیز (ریاست صـحیه وزارت دفـاع ملـی و قوماندانیت صحیه ستردرستیز) بوده تـا مجـروحین و معلــولین را دوبــاره از طریــق بــازتوانی و مراقبت‌های صحی دوامدار شامل حیات اجتماعی و خود کفائی ساخته تا ازاین طریق خدمت شایان رابرای آنها انجام داده باشیم.

**۱,۲. تثبیت و تعیین درجه معلولیت :**

(۱)- تعیین درجـه معلولیت مجروحین از طـرف کمیسـیون صـحی کــه صـدمه روانــی دیـده و یــا اعضای بدن خود را از دست داده اند.

(۲)- تقاعد افسران و بریدملان بنـا بـر معلولیت و یــا مریضــی دوامــدار کــه مــانع اجــرای وظیفــه میگــردد، از طــرف کمیســیون صــحی معلولیــت، تثبیت میشود، معلولیت بدین معنی است کـه افسر، بریدمل و سرباز بنابرعوامل مریضـی یـا جراحت نتوانـد وظـایف محولـه را بطـور درسـت و قناعـت بخــش انجــام دهــد بــرای تثبیــت معلولیــت، ارایــه مـدارک قـانونی طبـی ضـروری پنداشـته میشـود، تقاعد افسر و بریـدمل بنـابر معلولیت و یـا مریضـی دوامدار بـر اسـاس ارایـه مـدارک، از طـرف کمیسـیون صـحی تثبیت معلولیت و یـا مرجـع ذیصـلاح تشـخیص و تثبیت معلولیت منظور میگردد.

(۳)- دمعلولیــت دتثبیــت روغتیــایي کمیســیون دمعلولینـو د حقوقـو او امتیـازنو د قـانون د شـپږم ځپرکـي د دویمـي مـادې سـره سـم د ولایتونـو پـه مرکزکي تشـکیل او د معلولیت د درجې په تثبیت او معلومولو کې پریکړه کوي.

(۴) - یادشوی معلول د کار دبیا قدرت پیدا کولو په صورت کې تر تقاعد، گوښه کولو یا د معلولیت د دویم ځل تثبیت پورې د تقاعد لـه حقونونـه بـې برخې او لمړني حالت ته بېرته راگرځي.

(۵) - د معلولیـت د تقاعـد حقونــه، د عمـر او خـدمت د مودې په پام کې نیولو پرته لـه قانون سره سم محاسبه او ورکول کیږي.

**۲,۲- نظر په درجې سره د معلولیت ډولونه :**

**(۱) - بشپړ معلولیت:**

د هغه معلولیت څخه عبارت دی چې د یو اړوند کاري قدرت له ۶۰٪سلنې نه کموالی پیدا کړي.

**(۲) - برخې معلولیت:**

د هغه معلولیت څخه عبارت دی چې د یو اړوند کاري قدرت لـه ۳۰٪سلنې تر ۶۰٪سلنې لـه لاسه ورکړی وي.

**۲,۳.- د معلولیت حقونه:**

(۱) د هغــه افسـر او بریـدمل د تقاعـد حقونــه چــې د دنـدې پـر مهـال او یـا د جگړه ایزو فعـالیتونو او یـا د دښـمن د داسـي نـورو فعـالیتونو لـه کبلـه معلـولیږي د خدمت د مودې په پام کې نیولو پرتـه د اړونـده قـانون له حکمونو سره سم د وروستی تنخوا یې لـه ضمایمو سره محاسبه او ورکول کیږي.

(۳)- کمیسـیون صـحی تثبیـت معلولیـت مطـابق مـاده ششـم فصـل دوم قـانون حقوق و امتیـازات معلـولین در مرکـزو ولایـات تشـکیل و در مـورد تثبیت و تشـخیص درجه معلولیت تصمیم میگیرد.

(۴)- معلول مذکور در صورت بازیـابی تـوان کـار الـی سـوق بـه تقاعـد، انفصـال و یـا تثبیـت دوبـاره معلولیـت از حقـوق تقاعـد معلولیـت محـروم و بـه حالت اولی باز می گردد.

(۵)- حقـوق تقاعـد معلولیـت، بـدون در نظرداشـت سـن و مـدت خـدمت مطـابق قـانون محاسـبه و پرداخت می شود.

**۲,۲. انواع معلولیت نظر به درجه:**

**(۱)- معلولیت کلی :**

عبارت از معلولیت است کـه تـوان کـاری منسـوب بالاتر از (۶۰ ) فیصد کاهش یافته باشد.

**(۲) - معلولیت قسمی :**

معلولیـت اسـت کـه منسـوب از (۳۰) فیصـد الـی (۶۰) فیصد توان کاری اش را از دست داده باشد.

**۲,۳. حقوق معلولیت :**

(۱) حقوق تقاعد افسر و بریدمل کـه حین اجرای وظیفه و یـا بـالاثر اجرای فعالیت‌هـای محـاربوی و سایرفعالیت‌های دشمن معلول مـی گردنـد بـدون در نظرداشت مـدت خدمت، از آخـرین معـاش مـاهوار با اجزای آن، مطابق احکـام قـانون مربـوط سـنجش و پرداخته می شود .

(۲) هر کله که یو افسر او بریدمل د جګړه ایزو فعالیتونو او یا د دښمن داسې نورو فعالیتونو پر مهال معلولیږي او معلولیت یې بشپړ تثبیت شي، د یوې رتبې فوق العاده ترفیع مستحق ګڼل کیږي، په دې صورت کې د معلول د تقاعد حقوق د فوق العاده ترفیع په پام کې نیولو سره محاسبه او ورکول کیږي، په دې شرط چې د معلول وروستی تنخواه د فوق العاده ترفیع د امتیاز څخه لږ نه وي.

(۳)- دځانګړو قطعو، کماندو او هوایي ځواکونو افسران، بریدملان، سرتیري، مداومین، محلصین او پوځي زده کوونکي چې معلولیت یې تثبیت شوی وي د معلولیت د تثبیت کېدو تاریخ نه(۱۰۰) فیصده ورستی میاشتنی تنخوا د اجزا اوضمایمو سره دخدمت دمودې په پام کې نه نیولوسره ورکول کېږي.

(۴)دافسرانو، بریدملانو، سرتېرو، مداومینو، محصلینواوپوځي طلابودتقاعدحقوق چې د دندې داجرا پرمهال او یا دهغې دعواملو پربنسټ قسمي معلول تثبیت شي دمعلولیت دتثبیت دنیټې څخه(۵۰) فیصده وروستنی میاشتنی تنخوا دېولو ضمایمو اواجزاو سره د خدمت د مودې په پام کې نیولو څخه پرته ورکول کیږي.

۵- دځانګړو قطعاتو، کماندو او هوایی ځواکونو بشپړ معلولینو ته په قانون د درج اکرامیې سربیره د جمهور رئیس د۱۳۹۶کال دلیندی دمیاشتی دشلمی نیټې(۲۷۸۸)ګڼه حکم سره سم (۱۵۰۰۰۰) یوسل او پنځوس زره افغانی دملی دفاع د وزارت له بودجې څخه د یو ځل لپاره د مرستی په توګه ورکوول کیږی.

(۲) هرگاه افسر و بریدمل حین انجام فعالیت‌های محاربوی و سایرفعالیت‌های دشمن معلول گردد و معلولیت آن کلی تثبیت گردد، مستحق یک رتبه ترفیع فوق العاده میباشد، در این صورت حقوق تقاعد معلول با درنظرداشت ترفیع فوق‌العاده محاسبه و پرداخت می گردد، مشروط بر اینکه آخرین معاش معلول کمتر از امتیاز ترفیع رتبه فوق العاده باشد .

(۳) حقوق تقاعد افسران، بریدملان، سربازان، مداومین، محصلین و متعلمین نظامی که حین اجرای وظیفه و یا به علت ناشی از آن معلول کلی تثبیت گردند از تاریخ تثبیت معلولیت (۱۰۰) فیصد آخرین معاش ماهوار با اجزا و ضمایم آن بدون در نظرداشت مدت خدمت برایشان پرداخته میشود.

(۴) حقوق تقاعد افسران، بریدملان، سربازان، مداومین، محصلین و طلاب نظامی که حین اجرای وظیفه و یا به علت ناشی از آن معلول قسمی تثبیت گردند از تاریخ تثبیت معلولیت (۵۰) فیصد آخرین معاش ماهوار با اجزا و ضمایم آن بدون در نظرداشت مدت خدمت برایشان پرداخته میشود.

(۵) برای معلولین کلی قطعات خاص، کماندو و قوای هوائی بر علاوه اکرامیه مندرج قانون برای یک مرتبه مبلغ یکصدو و پنجاهزار افغانی از بودجه وزارت دفاع ملی طور مساعدت مطابق حکم نمبر(۲۷۸۸) مورخ ۱۳۹۶/۹/۲۰ پرداخت گردد.

**۲,۴. د مړ شوي معلول حقونه:**

د هغه افسر او بریدمل د تقاعد حقونه چې د دندې نه د لرې کیدو څخه مخکې او یا د دندې له کبله مړ شي، د افسرانو، بریدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو د قانون د (۶۸) مادې د حکمونو سره سم یې د تقاعد حقوق ورکول کیږي.

**۲,۵- دندې پورې اړوند معلولیت:**

کله چې افسر، بریدمل او سر تیری ته د رسمي ورکړل شوې دندې پر مهال، یوه پیښه رامنځ ته کیږي په دندې پورې اړه لري د رسمي ورکړل شوو دندو تر سره کول د دنده ایزو سفرونو او د کور او دندې د سیمې څخه تګ او راتګ شاملیږي د هغه افسرانو، بریدملانو او سرتیرو د تقاعد حقونه چې د جګړه ایزو فعالیتونو او یا د دښمن داسې نورو شومو فعالیتونو له کبله د د رسمي ورکړل شوې دندې پر مهال معلولیږي د هغوی حقوق د معلولینو د قانون د درج شوي حکمونو سره سم محاسبه او ورکول کیږي.

**۲,۶- د معلول د تنخوا بندېدل:**

د معلولینو د حقونو او امتیازونو قانون د (۱۳۸۹) کال د سنبلي د میاشتې (۱۵) مې نیټې د (۱۰۳۷) شمیرې رسمي جریدې د یوولسمې مادې سره سم د هغوی تنخواوې بندیږي.

**۲,۷- د متقاعد معلول د تقاعد د حقونو بندېدل:**

د متقاعد معلول د تقاعد حقونه په لاندې حالاتو کې بندیږي:

(۱) - په هغه صورت کې چې وروسته له معلولیت څخه کاري قدرت پیدا کړي.

**۲,۴. حقوق تقاعد معلول متوفی :**

حقوق تقاعد افسر و بریدمل که قبل از انفصال از وظیفه و یا به سبب وظیفه فوت نماید، مطابق حکم ماده شصت و هشتم قانون امور ذاتی افسران، بریدملان و ساتنمنان پرداخته میشود .

**۲,۵. معلولیت مرتبط به وظیفه :**

زمانیکه یک حادثه حین انجام وظایف محوله رسمی افسر، بریدمل و سرباز اردوی ملی رخ میدهد، مرتبط به کارپنداشته می شود، انجام وظایف محوله رسمی شامل سفرهای وظیفوی و رفت و برگشت از خانه به محل وظیفه و بالعکس به خانه نیزمی باشد حقوق تقاعد افسران، بریدملان و سربازان که بالاثر فعالیت‌های محاربوی و یا سایرفعالیت‌های خصمانه دشمن حین انجام وظایف محوله رسمی معلول میگردند، براساس احکام مندرج قانون معلولین محاسبه و پرداخته می شود.

**۲,۶. قطع معاش معلول** :

مطابق ماده یازدهم قانون حقوق و امتیازات معلولین جریده رسمی (۱۰۳۷) مورخ ۱۵سنبله سال ۱۳۸۹ قطع میگردد.

**۲,۷. قطع حقوق تقاعد معلول متقاعد:**

حقوق تقاعد معلول متقاعد در حالات ذیل قطع میگردد:

(۱)- در صورت که بعد ازمعلولیت توان کار را حاصل نماید.

(۲) - په هغه صورت کې چې معلولیت یې د نشه یي توکو څخه پیدا شوي وي.
(۳)- په هغه صورت کې چې د معلولیت دتثبیت په سندو کې یې جعل اوتذویر شوي وي.

**۲،۸. د مړشــوي معلــول دپــاتي شــویو کسانودحقونوبندیدل:**

دمړشوي معلول د پاتې شویو کسانو د حقونو بندېل په لاندې ډول دي:

۱- مړینه.

۲- دهیواد دایمي پریښودل.

۳- د تابعیت پریښودل.

۴- د واکمنـي محکمـي د قطعـي حکـم د صـادرېدو پـر بنسټ دملي خیانت د جرم په ارتکاب محکومېدل.

۵- هغــه زوی یــا ورور چــې د (۱۸) کلنــی ســن یــې بشـپړ کـړی یـایې د معلولیـت څخـه شـفا مونـدلې یـایې تعلـیم، تحصـیل او یـایې د عسـکري عمـومي مکلفیـت خدمت پای ته رسولی وي.

۶- د متوفي معلول د زوجې، لور یا خور واده کول.

**۲،۹- معالجه،درملنــه اوبیاغښــتلتیا:** دملــي دفــاع وزارت دصــحي چاروســترتوب او د ستردرســتیز د صحي قوماندانی د تګلارو او کړنلارو پر بنسټ دې اجرا شي.

**۲،۱۰- د ټپیــانو او معلولینــو معنــوي حقــوق او امتیازونه:**

**(۱) - د ټپیــانو او معلولینــو معنــوي مکافــات:**
د افغانسـتان د اسـلامي جمهـوری ریاسـت محتـرم مقــام او یــا د ملــي دفــاع وزیــراو لــوی درســتیز پـه ورانـدیز، ټپیـانو او معلولینـو تـه نښـانونه، مډالونـه،

(۲)- در صورت که معلولیت وی ناشی از اعتیاد به مواد مخدر باشد.
(۳)- در صــورت کــه در اســناد تثبیــت معلولیــت تذویر و جعل صورت گرفته باشد.

**۲،۸. قطع حقوق بازماندگان معلول متوفی :**

حقـوق بازمانـدگان معلـول متـوفی در حـالات ذیـل قطع می گردد:

۱- وفات.

۲- ترک دایمی کشور.

۳- ترک تابعیت.

۴- محکومیـت بـه ارتکـاب جـرم خیانـت ملـی بـه اساس صدورحکم قطعی محکمه ذیصلاح.

۵- پسر و برادری که سن (۱۸)سالگی را تکمیل یـا از معلولیـت شـفا یابـد یـا تعلـیم، تحصـیل و یـا خـدمت مکلفیـت عمـومی عسـکری را خـتم نمـوده باشد.

۶- ازدواج زوجه، دختر یا خواهر معلول متوفی.

**۲،۹. معالجــه، تــداوی و بــازتوانی:** مطــابق پالیسی‌ها و طرزالعمل‌های ریاست صحیه وزارت دفـاع ملـی و قومانـدانیت صـحیه ستردرستیز اجرا گردد.

**۲،۱۰. حقـوق و امتیـازات معنـوی مجـروحین و معلولین :**

**(۱) - مکافات معنوی مجروحین و معلولین :**
نظربـه لـزوم دیـد مقـام محتـرم ریاسـت جمهـوری اسـلامی افغانسـتان و یـا پیشـنهاد وزیـر دفـاع ملـي ولـوی درسـتیز بـراي مجـروحین و معلـولین نشـان‌ها،

افتخاري القاب، ستاینلیکونه او تحسین لیکونه ورکړل شي.

**(۲) - ټپي ته لمړنۍ رسېدنې:**

- د میدان څخه د ټپیانو او شهیدانو د تخلیې کرنلارۍ سره سم په ډیرلږ وخت کې د جګړې له لمړۍ کرښې څخه دهوایي ځواکونو او چارود مسؤلسینو له لورې روغتونو او کلینیکونو ته د ټپیانو لیږدول.

- ترروغتیایي مرکزونو پورې ټپیانودلیږدولو په وخت کې د روغتیایي لمړنیو مرستې برابرول.

- مخکې له دې چې په رسنیو کې نشر ته وسپارل شي د ټپي کورنۍ خبرول .

**(۳) – درملنې ته ډیر ژر لاس رسی:**

د ټپیانو درملنې ته باید ډیر ژر لاس رسی وشي په هغه صورت کې چې د ټپي درملنه په هیواد کې د ننه امکان ونلري باید د هیواد نه بهر ولیږدول شي.

**(۴)- د ټپیانو د احوال پوښتنه:**

دملي دفاع وزارت او ستردرستیز او د ملي اردو بیلابیلو قوماندانیو رهبرۍ پلاوي مکلف دي چې د ملي اردو به ځانګړې توګه په ملي او مذهبي ورځوکی د ټپیانو د احوال پوښتنه وکړي.

## (5)- د شکایتونو صندوق ایجادول:

- د ملي دفاع وزارت په سیمه کې، د پیژنتون په سترتوب او دملي اردو دقطعاتو او جزوتامونو ګارنیزونونو کې د معلولینو او شهیدانو د پاتي کسانولپاره د شکایاتو صندق ځای پرځای شي چې د یوې اونۍ په اوږدوکې دځانګړي کمیسیون غړي او

مدال‌ها، القاب افتخاری، تقدیرنامه‌ها و تحسین نامه‌ها اعطا گردد .

**(۲)- رسیده گی‌های اولیه به مجروح :**

- انتقال مجروح از خط مقدم نبرد مطابق طرزالعمل تخلیه شهدا و زخمی ها از میادین محاربه، به اسرع وقت به شفاخانه‌ها و کلینك‌ها توسط مسئولین امور و قوای هوائی اجرا گردد .

- فراهم آوری زمینه خدمات صحی اولیه حین انتقال مجروح الی مرکزصحی .

- آگاه نمودن فامیل مجروح پیش از اینکه در رسانه‌ها نشرگردد.

**(۳)- رسیدگی عاجل به تداوی :**

باید به تداوی زخمی‌ها رسیدگی عاجل صورت گیرد، در صورت وخامت مجروحیت و عدم امکان تداوی در داخل کشور جهت تداوی به خارج از کشور اعزام گردند .

**(۴) - عیادت از مجروحین :**

هیأت رهبری وزارت دفاع ملی و ستردرستیز و قوماندانیت‌های سطوح مختلف اردوی ملی مکلف هستند تا از مجروحین اردوی ملی بخصوص در ایام روزهای ملی و مذهبی عیادت نمایند.

**(۵) – ایجاد صندوق شکایات:**

ایجاد صندوق شکایات بازماندگان شهدا و معلولین در ساحه وزارت دفاع ملی، ریاست کادروپرسونل و گارنیزیون‌های قطعات و جزوتامهای اردوی ملی تا در جریان هفته یک بار توسط نمایندگان کمیسیون‌خاص که تحت

استازي چې د ملی دفاع وزارت د معاونينو څخه ديومعاون ترمشرۍ لاندې جوړيږي هغه صندوق پرانيزي او د دوی شکايتونه په ځير سره وڅيړي او د هغوی د حلولو لپاره ډير ژر تصميم و نيسي.

**۲,۱۱-د ټپيانو او معلولينو مادي حقونه او امتيازونه :**

**(۱) د ټپيانو او معلولينو مادي مکافات:**

- هغه افسران او بريدملان چې دجګړه ايزو او امنيتي فعاليتونو له امله ټپی او په روغتيايي مرکزونو کې د درملنې لاندې دي، د هغوی دهرې مياشتې دخدمت موده دې په امتيازي ډول د افسرانو، بريدملانو او ساتنمنانو د ذاتي چارو د قانون داوه شپيتمي مادي سره سم يوه نيمه مياشت محاسبه کيږي.

**(۲) - د معلوليت د درجې تثبيتول:**

د معلوليت درجه د روغتيا يي کميسيون لخوا په بشپړ او برخي ډول د قانون سره سم تثبيتيږي.

**(۳) - د سندونود پړاونو بشپړول:**

د معلوليت علم خبر او نور اسناد بايد په ډير کم وخت او يوه رڼه او اسانه پروسه کې پړاونه بشپړ او اړونده ځانګو ته واستول شي.

**(۴)- دمعلولينو مالي مرستې:**

- دملي اردو هغه افسران چې د اړونده مراجعو له خوا د دندې اجرا په وخت کې اويا له هغې څخه په را پيداشوي علت معلول تثبيت شي، د معلوليت د تثبيت د نېټې څخه صرف د يوځل لپاره له اجزاء او ضميمو سره يې د (۱۰) مياشتې و روستي معاش مالي مرستې برخمن ګڼل کيږي.

- د ملي اردو هغه بريدملان او سرتيري چې د اړونده مراجعو له خوا د دندې د اجرا په خت کې او يا له هغې

رياست يکی از معاونين وزارت دفاع ملی ايجاد ميگردد باز و شکايات واصله دقيقاً مورد ارزيابی قرار داده و در زمينه رفع آن اقدامات فوری صورت گيرد .

**۲,۱۱. حقوق و امتيازات مادی مجروحين و معلولين :**

**(۱) مکافات مادی مجروحين و معلولين :**

- افسران و بريدملان که از اثر مجروحيت ناشی از فعاليت‌های محاربوی و امنيتی در مراکز صحی تحت معالجه قراردارند، مدت خدمت هر ماه آنها طور امتيازی، مطابق ماده شصت و هفتم قانون امور ذاتی افسران، بريدملان و ساتنمنان يک و نيم ماه، محاسبه می گردد.

**(۲)- تثبيت درجه معلوليت :**

درجه معلوليت قسمی و کلي مطابق به قانون از طرف کميسيون صحی تثبيت می گردد.

**(۳) - طي مراحل اسناد :**

علم وخبر و ساير اسناد معلوليت بايد به اسرع وقت در يك پروسه شفاف و آسان طی مراحل شده و به مرجع مربوطه ارسال گردد .

**(۴)- مساعدت مالی معلولين :**

- افسران اردوی ملی که از طرف مراجع مربوطه حين اجرای وظيفه و يا به علت ناشی از آن معلول تثبيت گردند از تاريخ تثبيت معلوليت صرف برای يک مراتبه مستحق مساعدت مالی (۱۰) ماهه آخرين معاش ماهوار با اجزاء و ضمايم آن شناخته ميشود .

- بريدملان و سربازان اردوی ملی که حين اجرای وظيفه و يا به علت ناشی از آن، از طرف مراجع مربوطه معلول تثبيت گردند از تاريخ تثبيت

څخه په را پيدا شوي علت معلول تثبيت شي، د معلوليت د تثبيت دنيټې څخه صرف د يوځل لپاره له اجزاء او ضميمو سره يې د (۱۵) مياشتې وروستي تنخوا مالي مرستي برخمن ګڼل کيږي.

**(۵) – دنوی شامل شویوسرتیروحقونه اوامتیازونه:**

**الف :** هغه نوی شامل شوی سرتيری چی د قرار داد د ترون څخه وروسته معلول شی د معلولينو د حقونو او امتيازونو د قانون د ځينی مادو د بدلون پربنسټ په خدمت کی د بالفعل سرتيري د (۱۵) مياشتنی تنخوا د اجزا او ضمايمو سره د مالی مرستی برخمن ګڼل کيږی .

**ب** – هغه نوي شامل شوي سرتېرى چې د قرارداد دتړون څخه وروسته معلول شي، هغوی ته د معلولينو د قانون پربنسټ، هغه سرتيری چه په بالفعل خدمت کی قرار لری د هغی د مياشتنی تنخوا سره سم پرته دخدمت په پام کی نيولو سره د تقاعد حقوق يی سنجش او ورکړل شی.

ج - هغه داوطلب اشخاص چی د ذاتی چارو اسناد او د قرار داد پړاونه يی بشپړکړی وی خو مخکی له دی چی په اعزامی دفتر کی درج شوی وی معلول شی هغوی ته د حقونو او امتيازونو د قانون د ځينی مادو د بدلون پربنسټ د ملکی خدمتونو د کار کوونکو د (8) بست د اول قدم (5) مياشتنی تنخوا د اجزا او ضمايمو سره برخمن ګڼل کيږی .

**د** – کله چې د داوطلبواشخاصو د بياترون او ذاتي چارو اسناد د پړاونوبشپړول ترسره شي خومخکي له

معلولیت صرف یک مراتبه مستحق مساعدت مالی (۱۵)ماهه آخرین معاش ماهوار با اجزاء و ضمایم آن شناخته میشوند.

**(۵) - حقوق و امتیازات سربازان جدید الشمول**

**الف** - سربازان جدیدالشمول که بعد از عقد قرار داد، معلول میگردند، برای آنها مطابق تعدیل برخی از مواد قانون حقوق و امتیازات معلولین (۱۵) ماهه معاش ماهوار سرباز که در جریان خدمت بالفعل قرار دارد به شمول اجزا وضمایم مستحق مساعدت مالی شناخته میشود .

ب - سربازان جدیدالشمول که بعد از عقد قرار داد، معلول میگردند، برای آنها مطابق قانون حقوق و امتیازات معلولین، حقوق تقاعد به اساس معاش ماهوار سرباز که در جریان خدمت بالفعل قرار دارد بدون در نظرداشت خدمت سنجش و پرداخته شود .

ج - هرگاه اشخاص داوطلب که اسناد امور ذاتی و قرار داد ایشان طی مراحل شده اما قبل از درج دفتر اعزامی معلول می گردند، برای آنها مطابق تعدیل برخی از مواد قانون حقوق و امتیازات معلولین (۵) ماهه معاش قدم اول بست (۸) قانون کارکنان خدمات ملکی با اجزا و ضمایم آن مستحق مساعدت مالی شناخته میشود .

**د** - هرگاه اشخاص داوطلب که اسناد امور ذاتی و قرار داد ایشان طی مراحل شده اما قبل از درج دفتر

دې چې د ذاتي چارو په دفترکې درج شي معلول کيږي، د معلولينو د تقاعد حقونه او امتيازونه د قانون د ځينو مادو د بدلون د اتمې مادې د (1) فقرې د (3) بند پربست د ملکې خدمتونو د کارکونکو (8) بست د اول قدم 100فيصده تنخوا ورکړل شي.

**ه** - دملي اردو هغه بريدملان چې ملي اردو ته د سوق کېدو څخه مخکې د زده کړې لپاره د ښوونې مرکزته دليږدولوڅخه مخکې دلارې په اوږدوکې د دښمن له خواشهيد يا معلول شي په ملي اردو کې د بالفعله دندې داجراکولو د سرتېرې د حقونو او امتيازونو برخمن ګڼل کيږي.

**(۶) - په ورکړه کې آسانتياوې:**

د اړونده ځانګوله لارې د معلول د تنخواه په ورکولو کې دلازمواسانتياوبرابرول.

**(۷)- د وړيا درملنې د شرطونو برابرول:**

- معلولينو او د هغوی کورنيو ته د روغتيايي بيمې کارت ويشل د وړيا درملنې لپاره د ملي اردو په روغتونونو کې په هغه صورت کې چې د معلول درملنه، په هيواد کې د ننه امکان ونلري د هيواد څخه بهر وليږدول شي.

- د۱۳۹۶کال ددلينډۍ مياشتې دشلمې نيټې د(۲۷۸۸)ګڼه حکم پربنسټ دځانګړوقطعو، کماندواو هوايي ځواکونودشهيدانودکورنۍ هر غړي ته دې ځانګړي کارتونه وويشل شي چې دهغې په واسطه په فوق العاده توګه په ټولوپوځي روغتونونوکې په وړياډول درملنه شي.

اعزامی معلول می گردند، حقوق تقاعد و امتیازات آنها، مطابق بند(۳) فقره (۱) ماده هشتم تعدیل برخی از مواد قانون حقوق و امتیازات معلولین، ۱۰۰ فیصد معاش قدم اول بست (۸) قانون کارکنان خدمات ملکی پرداخت گردد .

**ه** - داوطلبان اردوی ملی که بعداز سوق به اردوی ملی جهت آموزش تعلیمات به مراکز تعلیمی اعزام میگردند و در طول راه بالاثر فعالیت‌های خصمانه دشمن معلول میگردند از حقوق و امتیازات سربازانیکه در خدمت بالفعل قرار داشته باشند مستحق میگردند.

**(۶)- تسهیل در پرداخت :**

فراهم کردن تسهیلات لازم در پرداخت معاش معلول مطابق قانون از طریق مراجع مربوطه .

**(۷)- فراهم کردن زمینه تداوی رایگان :**

- توزیع کارت بیمه صحی برای معلولین و فامیل‌های شان به منظور تداوی رایگان در شفاخانه‌های اردوی‌ملی و در صورتیکه امکان تداوی معلول در داخل کشور فراهم نباشد به خارج کشور اعزام گردد.

- کارت‌های مخصوص صحی برای هر یک از اعضای خانواده معلول کلی قطعات خاص، کماندو و قوای هوائی مطابق حکم نمبر (۲۷۸۸) مورخ ۱۳۹۶/۹/۲۰ توزیع شود که بواسطه آن در تمام شفاخانه‌های نظامی طور فوق العاده و رایگان تداوی گردند.

**(۸) ـ معلول ته د بوختیا د زمیني برابرول:**

د معلولینو لپاره ګټوره حرفه یي بوختیا پیدا کول اوهغوی پـه مناسبو دندو چې قـانون سره سم وي ګمارل او ددوی پاتې کسانو ته د بوختیادزمیني برابرول.

**(۹) ـ د وړیا زده کړو د زمیني برابرول:**

د ملي دفاع وزارت د ښوونـی او روزنـی سترتوب اودستردرستیزدسـوونی اوروزنـی او دوکتورینـو واحدی قومانـدانی پـه همغږۍ سره لـه پـوهنې او لـوړو زده کـړو د وزارتونـو د معلولینـو د کورنیـو غړو ته په ښوونیزو او زده کړه ایزو موسسو کې چـې د هیـواد دننـه او بهـروي وړپیژنـدل او د زده کړې شرایط برابرول.

**(۱۰)ـ د یوبـاب اپارتمــان او یــوې نمــرې ځمکــې وېشل:**

معلـول تـه یـو بـاب اپارتمـان د معلولینـو د سهمیې څخـه په اوږد مهالي قسط سره او یوه نمره ځمکه پـه دولتـي پروژو کـې پـه وړیـا ډول سره پـه اړونده ولایتونـو کـې پـه هغه صورت کې چې پـه خپل ولایت کـې یـې ځمکه نـه وي په ګاوندي ولایت کې وویشل شي.

ـ دځــانګړوقطعو، کمانـــډو اوهـــوایي ځواکونـــو بشـــپړ معلولینـو تـه د معلولینـو د حقونـو او امتیـازنو دقـانون اوپـه هغـه کـې دراوړل شـوي بدلونونوپـه پـام کـې نیولوسـره دکابـل پـه یـوه استوګنیزه پروژه اویاپـه مرکزکـې دمعلـول دکـورنی داوسـیدو او نـورو ولایـاتوکي یوبـاب مناسـب اپارتمـان دملي دفـاع وزارت لـه سرجمع بـودجي پـه نغدي ډول وپیرودل شـي اویـادې د(۳۰)سلنه کمښت سره دشـل کالونوپـه قسـطونو دجمهـو رئـیس د۱۳۹۶کـال دلینـدۍ دمیاشتـي دشلمي نیټـی(۲۷۸۸)ګڼـه حکـم سره سـم ورکړل شي.

**(۸)ـ فراهم کردن زمینه اشتغال :**

ایجـاد حرفـه و مشـغولیت مفیـد بـرای معلـولین و توظیف آنها در وظایف مناسب مطابق به قانون و زمینه اشتغال برای بازماندگان آنها فراهم گردد .

**(۹)ـ فراهم کردن زمینه تحصیل رایگان :**

اولویـت در معرفـی اعضـاي فامیـل واجـد شـرایط معلولین در موسسات تعلیمی و تحصیلی در داخل و خـارج کشـور از طـرف ریاسـت تعلیم و تربیـه وزارت دفاع ملی و قوماندانیت واحد تعلیم و تربیه و دکتـورین ستردرسـتیز در همـاهنگی بـا وزارت تحصیلات عالی و وزارت معارف .

**(۱۰)ـ توزیـع یـك بـاب آپارتمـان و یـا یـك نمـره زمین :**

ـ توزیع یك بـاب آپارتمـان بـرای معلـول از سـهمیه معلولین با اقساط طویل المدت و یا توزیع یك نمره زمـین در پروژه‌هـای دولتـی بگونــه رایگــان در ولایــت مربوطــه و در صــورتیکه در آن ولایــت زمین نباشد در ولایت همجوار توزیع گردد.

ـ بـرای معلـولین کلـی قطعـات خـاص، کمانـدو و قـوای هـوائی بـا درنظرداشـت قـانون حقـوق و امتیــازات معلــولین و تعــدیلات آن در یکــی از پروژه‌های رهایشی شهر کابل و یا محل سکونت فامیل معلول کلـی در مرکز و سایر ولایات یـک بـاب اپارتمـان مناسب از سر جمع بودجه وزارت دفـاع ملـی نقداً خریـداری و بـا سـی فیصد تخفیف منـدرج قـانون بـه اقسـاط بیست سـاله مطـابق حکم نمبر(۲۷۸۸) مورخ ۱۳۹۶/۹/۲۰ توزیع گردد.

- دملـي اردو معلولينوتـه د افغانسـتان د اسـلامي جمهـوري رياسـت د(۴۲۸) گڼـې د۱۳۸۹/۱/۲۶ نېټې دحکم پربنسټ په اړونده ولايتونوکې يوه يوه نمـره داسـتوگنې ځمکـه د اړونـده ولايتونـود ښاروالیوله خوا وېشل کيږي.

ملـي دفـاع وزارت دې دځمكـې قيمـت دوېشـل كېدوڅخـه ورسـته اړونـده ښـاروالیوته وركـړي اوهمدارنگـه معلول تـه دې دوېشـل شـوې ځمكـې دسند د اخيستلو څخه وروسته دافغانستان داسلامي جمهوري رياسـت د(۲۲۷۳) گڼـې د۱۳۸۹/۴/۱۰ نېټـې حکـم پربنسـټ دهغـې دجوړولـو لپـاره (۲۰۰۰۰۰) افغـانی دملـي دفـاع وزارت دبـودجې څخه هم ورکول کېږي.

- بـراى معلـولين اردوى ملـي مطـابق حكـم نمبـر(۴۲۸) مـورخ ۱۳۸۹/۱/۲۶ رياسـت جمهـورى اسـلامى افغانسـتان يـك يـك نمـره زمـين رهايشـى در ولايـات مربوطـه شـان، از طـرف شـاروالی‌هاى ولايات توزيع ميگردد .

قيمـت زمـين را وزارت دفـاع‌ملی بعـد از توزيـع نمرات آنها به شـاروالی هاى مربوطـه ميپـردازد و همچنـان بـراى معلـول بعد از توزيـع زمـين و اخذ سـند ملكيـت مطـابق حكـم نمبـر(۲۲۷۳) مـورخ ۱۳۸۹/۴/۱۰ رياست جمهورى اسلامى افغانستان مبلـغ (۲۰۰۰۰۰) افغـانی پـول اعمـار آن نيـز از بودجـه وزارت دفـاع ملـي بـه فاميل‌هـاى شـهدا و معلولين پرداخته ميشود .

**(۱۱) - معلولينو ته د حرفوي او فني مهارتونو زده کړې:**

د شـهيدانو اومعلولينـو، دشـهيدانو او معلولينـو او دتـولنيزو چـارو د کـارمحترم وزارتونـو سـره پـه همغږۍ د حرفـوي او فنـي مهـارتونو زده کـړو او پرمختيايي پروگرامونو د زمينې برابرول.

**(۱۱) - آموزش مهارت‌های فنی و حرفوی برای معلولين :**

زمينـه آمـوزش مهارت‌هـای فنـی و حرفـوی طبـق پروگـرام انكشـاف مهارت‌هـای فنـی و حرفـه ای در همـاهنگی بـا وزارت‌های محترم دولت در امور شـهدا و معلولين و كار و امور اجتماعی فراهم گردد .

**(۱۲) – ورزش او تفريح :**

هغـه کسـان چـې معلوليـت ولـري د اطلاعـاتواو کلتـور وزارت، د بدني روزنـې او المپـک کميټې، کاراوټولنيزوچـارو، شـهيدانواومعلولينو وزارت سـره پـه همغږۍ ورتـه دتفـريح اوسـپورت زمينـه برابره شي.

**(۱۲) - تفريح و ورزش:**

زمينـه تفـريح و ورزش بـرای اشـخاص دارای معلوليـت در همـاهنگی بـا وزارت اطلاعـات و فرهنگ، كميته ملی المپيک رياست تربيت بدنی و سپورت و ديپارتمنت پـارا المپيـک وزارت كـار و امور اجتماعی فراهم گردد.

**(۱۳) - د بیت الله شریف حج ته لیږدول:**

د معلولینو د ونډې څخه،په شرطونوبرابرمعلولین اویا یو کس د کورنۍ غړونه د بیت الله شریف حج ته لیږدول او د دوی جیب خرڅ په پام کې نیول او همدا رنګه هغه معلولین چی د حج کولومالی توان لری لمړیتوب حق ورته ورکړل شي .

**(۱۳) - فرستادن به حج بیت الله شریف :**

مطابق سهمیه معلولین، معلولین واجدشرایط و یا یکنفر از اعضای فامیل معلولین اردوی ملی به حج بیت الله شریف صرف برای یك بار فرستاده و جیب خرج نیز برای‌شان در نظر گرفته شود همچنان به معلولین که غرض ادای فریضه حج امکانات مالی داشته باشد حق اولویت داده شود .

**(۱۴) – معلولینو ته د ډیر ژر رسیدنې میکانیزم:**

- ساحوي زونونو مرکزونو ته د مصنوعي اندامونو جوړولو او فیزوتراپي خدمتونو تطبیق لپاره د بیا وس موندنې مرکزونو ته دهغو معلولینو لیږل چې د بدن غړي یې پرې شوي وي.

- د ددوی د پوهې، لیاقت او لازمو مهارتونو پر بنسټ اړوند وزارتونو او نورو ارګانونو سره په همغږۍ معلولینو ته د کار پیدا کول او ګمارل.

**(۱۴)- میکانیزم رسیدگی عاجل به معلولین :**

- راجع سازی معلولین قطع اعضا به مراکز بازتوانی جهت ساخت و تطبیق اندام مصنوعی و خدمات فزیوتراپی در مرکز و زون‌های ساحوی .

- کاریابی و استخدام معلولین در هماهنگی با وزارت خانه‌های مربوطه و سایر ارگانها به اساس دانش، لیاقت و مهارت‌های لازم .

## دریم څپرکی

## دملي اردو هغه ټپیانو ته چې د ننه په بستر کې وي یوه اندازه نغدې روپۍ ورکول او ټاکل شوي ځای ته د ملي اردو د ټپیانو او شهیدانو جسدونو لیږدول

**۱,۳. په بستر کې د ننه ټپیانو لپاره دنغدو پیسو ورکړه:**

(۱) - د ملي اردو د قطعو اوجزوتامونو ټپیان چې د شهید سردارمحمد داود خان په روغتون کې تردرملنې لاندې نیول کیږي د ملي دفاع وزارت د وړاندیز او د جمهوري ریاست د محترم مقام حکم پربنسټ وروسته له هغې چې، ټپیان د روغتون څخه رخصت شي(۴۰۰۰) افغانی د مرستې په ډول ترلاسه کولای شي.

(۲)- د ملي دفاع وزارت روغتیا سترتوب، د ستر درستیز روغتیایي قوماندانیت، حقونو او تفیتش آمریتونه د ملي اردو د هغوټپیانو د پیسوو له ورکړې څخه چې روغتیا یې ترلاسه کړي وی په دوامداره توګه کنترول او څارنه وکړي.

**۲,۳. د شهیدانو د جسدونو او ټپیانو د لیږد لپاره د نغدې روپیو ورکړه:**

(۱)- د جګړې له سیمې څخه د ټپیانو اوشهیدانو لیږدول د سیمه ایزو قول اردوګانو او فرقو د قوماندانیتونو مسؤولیت دی چې د ځمکې یا هوا له لارې د شهید سردارمحمد داود خان روغتون ته لیږدول کیږي او وروسته دموظف کمیسیون ترنظر لاندې چې تعیین اوګمارل شوی وي د خصوصي سکتور په وسیله د ځمکې یا هوا له

## فصل سوم

## در مورد پرداخت یک مقدار پول نقد برای مجروحین داخل بستر و انتقال مجروحین و اجساد شهدای اردوی ملی به محل مطلوب

**۱,۳. پرداخت پول نقد برای مجروحین داخل بستر :**

(۱) - مجروحین قطعات و جزوتام‌های اردوی ملی که در شفاخانه سردار محمد داود خان و شفاخانه‌های ساحوی اردوی ملی تحت تداوی و معالجه قرار میگیرند، به اساس پیشنهاد سالانه وزارت دفاع ملی و حکم مقام محترم ریاست جمهوری، بعد از مرخص شدن از شفاخانه مبلغ (۴۰۰۰) افغانی طور مساعدت دریافت مینمایند .

(۲) - آمریت‌های حقوق و تفتیش، ریاست کشف و استخبارات، ریاست عقیدتی و فرهنگی و قوماندانیت صحیه ستردرستیز از توزیع و پرداخت پول متذکره برای مجروحین صحت‌یاب شده اردوی ملی بطور دوامدار و شفاف کنترول و نظارت نمایند .

**۲,۳. پرداخت پول نقد جهت انتقال مجروحین و اجساد شهدا:**

(۱) - انتقال شهدا و مجروحین اردوی ملی از ساحه جنگ و محاربه به دوش قوماندانیت‌های قول اردوها و فرقه های ساحوی میباشد که از طریق زمین و یا هوا به شفاخانه شهید سردار محمد داود خان انتقال داده میشود بعداً تحت نظرکمیسیون موظف که تعیین و توظیف گردیده توسط سکتور خصوصی از طریق زمین و یا هوا

لاري له يو لاربنود سره دهغوی استوګنځای پورې
ولیږدول شي.

(۲)- د شهیدانو د لیږد پیسي د ملي اردو د (۲۲) کود او (۲۲۸۰۰) فصل څخه اجرا کیږي.

(۳)- د شهیدانو لیږدول د سیمه ایزو جزوتامونو او قطعو څخه د اوپراسیون سترتوب د پلان پربنسټ د هغوی اړونده ولایتونو یا د هغوی ګاوند ته اونور پاتي شهیدان د شهید سردار محمد داود خان روغتون ته او له هغه ځای څخه د ګمارل شوي کمیسیون ترنظرلاندې د خصوصي سکتور په واسطه له یو لاربنود سره د هوا یا ځمکي له لارې اړوند استوګنځایونو ته لیږل اود کرايي پیسي د ګمارل شوي کمیسیون لخوا تثبیت او ورکړل شي.

(۴)- د هغو شهیدانوجنازی چې د هغوی کورنی ته د خصوصي ترانسپورت لخوا لیږدول کیږي د ترانسپورت د کرايې پیسې د ولایتونو د خصوصي ترانسپورت د تکټ اخستو څخه وروسته د اوپراسیون سترتوب دمسؤلینواود عقیدتي او فرهنګي اوپه ولایتونو کې دقول اردوګانودمالی اوعقیدتی امریتونود استازو ترنظرلاندې اجرا شي.

(۵)- د ساحوي قطعاتو اوجزوتامونو څخه شیهدان او ټپیان د پو ځي الوتکو په واسطه اوله امن ځایونو څخه د ملي اردو د قطعاتو اوجزوتامونو د امبولانسونو په واسطه د شهید سردارمحمد داود خان روغتون ته ولیږدول شي.

(۶)-هغه شیهدان چې دهغوی کورنیوته لیږدول کیږي د هغوی د کرايې پیسې دلارې د واټن په اوږدوالي، امن اونا امن سیمو، امنیتي وضعیت، د هوا په پاملرنې اود بازار د ورځنی نرخ اوهغه ګواښونه چې د لارې به اوږدوکې جوړیږي د ملي دفاع د وزارت دمالي اوبودجي سترتوب سره په همغږۍ د عقیدتي او فرهنګي سترتوب لخوا اوپه ولایتونو کې دقول اردوګانواو فرقو دمالی اوعقیدتی امریتونود استازو تثبیت اواجرا شي.

به محلات مسکونی شان همراه با راه بلد آن انتقال گردند .

(۲) - کرایه انتقال اجساد شهدای اردوی ملی از کود (۲۲ ) فصل ( ۲۲۸۰۰) پرداخته میشود .

(۳) - اجساد شهدا اردوی ملی از قطعات و جزوتام‌های ساحوی مطابق به پلان ریاست اوپراسیون به ولایات مربوطه و همجوار آن منتقل و متباقی شهدا به شفاخانه شهید سردار محمد داود خان و از آنجا تحت نظر کمیسیون موظف با موجودیت راه بلد آن توسط سکتور خصوصی از طریق زمین و یا هوا به محلات مربوطه شان انتقال و پول کرایه آن ازطرف کمیسیون موظف تثبیت و پرداخت گردد.

(۴) - میت شهدای که به خانواده‌های شان از طریق ترانسپورت خصوصی انتقال میگردد پول کرایه ترانسپورت آن را بعد از آوردن تکت از ترانسپورت خصوصی ولایات تحت نظرمسئولین ریاست اوپراسیون و نماینده عقیدتی و فرهنگی و در ولایات از طریق آمریت های مالی و عقیدتی قول اردوها اجرا گردد .

(۵)- شهدا و مجروحین از قطعات و جزوتام‌های ساحوی توسط طیارات نظامی و از نقاط امن توسط امبولانس‌های قطعات و جزوتام‌های اردوی ملی به شفاخانه شهید سردار محمد داود خان منتقل گردند .

(۶) - شهدای که به فامیل‌های شان انتقال میگردد پول کرایه آن نظر به بعد مسافه، منطقه امن و نا امن، وضعیت امنیتی، شرایط و اوضاع جوی و محیطی و نرخ بازار آزاد نسبت متفاوت بودن تهدیدات بلند امنیتی که در مسیر شاهراه‌ها رونما میگردد از طرف ریاست عقیدتی فرهنگی در هماهنگی با ریاست مالی و بودجه وزارت دفاع ملی و در ولایات از طریق آمریت های مالی و عقیدتی قول اردوها وفرقه ها تثبیت و پرداخت گردد .

## ځلورم څپرکی

## د شهیدانو او ورکو شوو پاتې کسانو حقونه او امتیازونه

